29 January 2026

# د بخښنې نه محرومه خلق

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ 29 جنورى، کال 2026ء (بمطابق: 9 شعبان شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د بخښنې نه محرومه خلق

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خود آقا بے مثاله سجده
- د مغفرت موندلو نسخه
- د خدائے د راضي کولو د ټولو نه نزدې ذريعه
- د شبِ برأت څه نوافل

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَّة

**I**slamic **R**esearch **C**enter

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

صَلَاتُکُمْ عَلَیَّ مُحْرِزَۃٌ لِّدُعَائِکُمْ وَ مَرْضَاۃٌ لِّرَبِّکُمْ وَ زَکَاۃٌ لِّاَعْمَالِکُمْ

ترجمه: ستاسو پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ستاسو د دعاګانو د حفاظت کولو والا او ستاسو د رَبّ د رضا ذریعه او ستاسو د اعمالو د پاکولو سبب دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| تا قیامت اُس بہارِ باغِ جنّت پر سلام | شانِ عزت، کانِ رحمت، جانِ عِفت پر سلام |
| دل سے اُس جانِ جاں پر چاہیے پڑھنا درود | پہنچے اُمّت سے شفیعِ جرمِ اُمّت پر سلام |
| بیدلؔ مسکین کا یاربّ! بھیجتا رہ تو مُدام | تاقیامت شافعِ روزِ قیامت پر سلام (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔

---

1...القول البدیع، صفحه:133۔

2...نورِ ایمان، صفحه:44 ملتقطاً۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به تهول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے مثاله سجده

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائِشه صِدِّيقه طَيِّبَه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي، يو ځل د شپې وخت وو، کله چې نيمه شپه شوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشريف يوړلو، زما سره فِکر شو، زهٔ پاڅيدم او د ازواجِ مطهرات پهٔ حجرو کښې مې وکتو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته هم پهٔ نظر رانغلو، واپس چې کله خپلې حُجرې ته راغلم نو وه مې کتل، لکه څنګه چې کپړه پهٔ زمکه باندې ايښودے شوې وي، هٰغه شان رسول اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د دُنيا او څهٔ چې پهٔ دې کښې دي د بے خبره کيدو سره) د اللّٰه پاک پهٔ حُضُور کښې سر پهٔ سجده کښې ايښودے دے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر پهٔ سجده کښې ايښودے وو او وئيل يې :

سَجَدَلَكَ خَيَالِي وَسَوَادِیْ، وَآمَنَ بِكَ فُؤَادِیْ، فَهٰذِهٖ يَدِیْ وَمَا جَنَيْتُ بِهَا عَلٰى نَفْسِیْ يَا عَظِيمُ يُرْجَى لِكُلِّ عَظِيمٍ، يَا عَظِيمُ اِغْفِرِ الذَّنْبَ الْعَظِيمَ، سَجَدَ وَجْهِیَ لِلَّذِی خَلَقَهٗ وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ

ترجمه: اے اللّٰه پاکه! ستا پهٔ دربار کښې زما خيال او زما وجود سجده کړې ، پهٔ تا باندې زما زړهٔ ايمان راوړے ، دا لاسونه دي، پهٔ کومو چې پهٔ ځان باندې زياتے شوے، اے د عظمت والا ربه! د کوم سره چې د هرې عظيمې خبرې طمع ساتلے شي، اے د عظمت والا ربه! لوئې ګناهونه اوبخښې، زما مولىٰ! زما مخ کوم چې تا پيدا کړے، پهٔ دې باندې دې مخ او سترګې جوړې کړې، هٰغه مخ ستا پهٔ دربار کښې پهٔ سجده دے۔

بیا نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر راوچت کړو، بیا یـې دویمه سجده اوکړه، په دې ځل یـې داسې دُعا اوکړه:

أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَأَعُوذُ بِعَفْوِكَ مِنْ عِقَابِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ، أَقُوْلُ كَمَا قَالَ اَخِيْ دَاوٗدُ، أَخِيْ دَاوٗدُ، أَعْفُرُ وَجْهِيْ فِي التُّرَابِ لِسَيِّدِيْ، وَحَقٌّ لَهُ أَنْ يُسْجَدَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! زۀ ستا د غضب نه ستا د رضا پناه ته راځم، ستا د عذاب نه ستا د بخښنې پۀ پناه کښې راځم، ستا د غضب نه هم ستا پناه غواړم، زۀ ستا داسې تعریف نشم کولے، څنګه چې تا پخپله خپل حمد وفرمائیلو، زۀ هم هغه وایم څۀ چې زما ورور داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ووئیل: ما د خپل مالِک او مولیٰ د پاره خپل مخ پۀ خاوره باندې کیښودو او هغه حق دار دے چې د هغه پۀ دربار کښې سجده اوکړے شي۔

د دې نه پس نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر راوچت کړو او داسې دُعا یـې اوکړه:

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ قَلْبًا تَقِيًّا مِنَ الشَّرِّ نَقِيًّا لَا جَافِيًا وَّلَا شَقِيًّا

**ترجمه:** اے الله پاکه! ما ته پرهیزګاره، د ګناهونو نه پاک زړۀ راعطا کړې، داسې زړۀ کوم چې نۀ سخت وي، نۀ بد بخته وي۔

سیده عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: د عبادت او د دُعا نه د فارغیدو نه پس رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما خوا له تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل: دا د نصف شعبان شپه (یعنې شبِ براءَت) ده، پۀ نني شپه باندې الله پاک د دُنیا پۀ اسمان باندې تجلي فرمائي او د مُشرک او د کینه ور (یعنې پۀ زړۀ کښې د پټې دښمنۍ لرونکي)نه علاوه ټول بندګان بخښي۔ (1)

| | |
|---|---|
| کِشتِ اُمّید پہ ہے فَضلِ خُدا آج کی رات | ہر طرف چھائی ہے رحمت کی گھٹا آج کی رات |
| کس قدر جوش پہ ہے حق کی عطا آج کی رات | پائیں گے سارے طلب سے بھی سِوا آج کی رات |

1...شعب الایمان، کتاب الصیام، فصل ماجاء فی لیلة نصف من شعبان، جلد:3، صفحه:385، حدیث:3838۔

# د محبوب پهٔ سجده دې پهٔ لکونو سلامونه وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ایمان تازه کوونکے کوم روایت چې مونږه واوریدو، پهٔ دې کښې د زده کولو د پاره ډیر څهٔ دي خو زهٔ چې کوم طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم، هغه د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکه او ښکلې سجده ده، تاسو غور اوکړئ چې دا څومره د کمال سجده ده، د دې سجدې کوم حالت چې سیده عائِشه صِدّیقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بیان کړو، اوئې فرمائیل: كَالثَّوْبِ السَّاقِطِ ګویا پهٔ زمکه باندې چې ایښودے شوې کپړه وي۔

یعنې خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل رَبّ پهٔ دربار کښې د بندګۍ اِظهار فرمائي، هغوئي پهٔ کمال جذبه کښې وو، حالت مبارک یـې دا وو چې د دُنیا او څهٔ چې پهٔ دُنیا کښې دي د دې نه بالکل بے نیازه، د خپل رَبّ پهٔ حُضُور کښې ډیر پهٔ عاجزۍ سره حاضر وو، څه د ځان خیال نهٔ وو، څه اهتمام نهٔ وو، بس مکمل یـې ځان سپارلے وو، د هغوئي صرف وجود مبارک پهٔ سجده کښې نهٔ وو بلکې سر، دِماغ، زړهٔ، خیال، سوچ هر څهٔ د اللّٰه پاک پهٔ حُضُور کښې پهٔ سجده وو۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا څومره عظیمه سجده وه---!! مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان یو، د اللّٰه پاک پهٔ حُضُور کښې سجدې کوو خو زمونږ پهٔ سجدو کښې ډیرې نخرې وي، خلق د سجدې کولو پهٔ وخت هم د جامو خیال ساتي چې د جامو استرې ماته نهٔ شي، تندے چې پهٔ کوم ځائے لګول دي، هغه ځائے صفا وي چې خاوره ورپسې نهٔ انښلي او سجده څومره کوو؟ بس زر زر درې کرته سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ولولو او سر د سجدې نه راپورته کړو۔

کاش چې د محبوبِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله مو د سجدو مزه نصیب شي۔

سجدے میں سکوں، سجدے میں مزہ | سجدے میں چھپا اندازِ وفا
محروم رضائے مولیٰ سے | سجدے سے جو سَر محروم رہا

سجدوں سے محبّت ملتی ہے | سجدوں سے سعادت ملتی ہے
سجدوں پہ سجدے کرتا جا | سجدوں میں چھپی ہر غم کی دوا

## د سجدو زياتوالے د درجو اوچت والے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د الله پاک پهٔ حُضُور کښې سجده کول ډېر د فضيلت والا کار دے- مونږ ته د اوږدو سجدو کولو عادت جوړول پکار دي! تابعي بزرګ حضرت مَعدَان بن ابو طلحه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيان کوي چې زهٔ د صحابي رسول حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ سره ميلاؤ شوم، ما عرض اوکړو: ما ته داسې عمل وښايئ کوم چې زهٔ اوکړم نو د هغې پهٔ برکت الله پاک ما جَنَّت ته داخِل کړي- حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ وفرمائيل: ما پهٔ دې باره کښې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه کړې وه، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي وو: ډيرې سجدې کوئ ځکه چې کله هم د الله پاک د پاره سجده کوئ، الله پاک به ستاسو يوه درجه اوچته کړي او د دې پهٔ بدله کښې به ستاسو يوه خطا معاف کړي- [1]

## پهٔ سجدو کښې دُعا کوئ!

نور دا هم وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر مبارک پهٔ سجده کښې کيښودے دے او دعاګانې کوې، د دې نه مونږ ته دا سبق ميلاؤ شو چې د سجدې پهٔ حالت کښې دُعا کول پکار دهٔ-

ياد ساتئ چې د فرض نـمونځونو پهٔ سجدو کښې دُعا نهٔ شي غوښتے، د دې نه علاوه د شُکر سجده چې کوئ، نفلي نـمونځونه کوئ، هٰغه وخت پهٔ سجده کښې دُعاګانې کول پکار دي-[2] پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنسان د **سجدې** پهٔ حالت کښې خپل رَبِّ کريم ته

---

1… مسلم، کتاب الصلاۃ، باب فضل السجود والحث علیه، صفحه:184، حديث:488-

2… الدر المختار، کتاب الصلاۃ، باب صفة الصلاۃ، صفحه:7069 بتغير قليل-

ډير زيات نزدې وي، لهذا تاسو پهٔ سجده کښې پهٔ کثرت سره (يعنې ډيرې) دُعاګانې کوئ-[1]
حضرت سَيِّدُنا ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: کوم اِنسان چې پهٔ **سجده** کښې دري کرته دا ووائي: يَارَبِّ اغْفِرْلِی،يَارَبِّ اغْفِرْلِی،يَارَبِّ اغْفِرْلِی (اے الله پاکه! ما اوبخښې، يا الله پاکه! ما اوبخښې، اے رَبِّ کريمه! زما مغفرت وفرمائې) کله چې هغه خپل سر اوچتوي نو د هغهٔ مغفرت يعنې بخښنه شوې وي-[2]

لوگوں سے توجہ ہٹ جائے | دُنیا سے رشتہ کٹ جائے
ماتھے کو زمیں پر رکھنا ہے | مصروف زباں ہو حمد و ثنا
سجدے میں شکرِ مولیٰ ہے | سجدے میں ذِکرِ مولیٰ ہے
توبہ کر کے مانگو اِک دِن | رَدّ ہوتی نہیں سجدے کی دُعا

الله پاک دې زمونږ هم د سجدو خوند نصيب کړي، پهٔ سجدو کښې مو دې د دعاګانو غوښتو توفيق نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مغفرت ڈھونڈتی پھرتی ہے گنہ گاروں کو

## [مغفرت ګرځي او ګنهګاران لټوي]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شَبِ براءَت (يعنې د نجات شپه) تشريف راوړونکې ده، الله پاک دې زمونږ د صحت او خير سره دې مبارکې شپې ته رسيدل نصيب کړي- دا ډيره د برکتونو والا، د عزتونو والا او د اوچت والې شپه ده- زمونږه خوږ آقا، د مدينے مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې د شعبان مينځنۍ (يعنې پينځلسمه) شپه راشي نو پهٔ دې شپه کښې قيام (يعنې عبادت) کوئ، د ورځې روژه نيسئ،

[1]... مسلم، کتاب الصلاة، باب ما يقال في الرکوع والسجود، صفحه:183، حديث:482-
[2]... مصنف ابن ابي شيبه، کتاب الدعاء، ما رخص للرجل يدعو به...الخ، جلد:7، صفحه:33، حديث:3-

بے شکه په دې شپه د نمر د پرېوتو سره الله پاک د خپل شان مطابق د دُنیا په اسمان جلوه ګر کیږي او اِرشاد فرمائي: ﴿اَلَا مِنْ مُّسْتَغْفِرٍ لِّیْ فَاَغْفِرَ لَہٗ﴾ شته څوک زما نه د بخښنې غوښتلو والا چې زۀ یې معاف کړم ﴿اَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَاَرْزُقَہٗ﴾ شته څوک زرق غوښتلو والا چې زۀ هغۀ ته رزق عطا کړم ﴿اَلَا مُبْتَلًی فَاُعَافِیَہٗ﴾ شته څوک پرېشانه چې زۀ د هغۀ پرېشانئ لرې کړم، شته څوک داسې، شته څوک داسې، د سحر کیدو پورې هم داسې اِعلان کیږي۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! تاسو اندازه ولګوئ چې د دې نه به زیات رحمت او مهرباني نوره څۀ وي؟ زمونږ په شان بد کردارو، ګنهګارانو، د سر نه د ښپو پورې په ګناهونو کښې لت پت بندګانو ته د الله پاک رحمت اواز کوي چې راشئ---!! بخښنه تقسیمیږي، راشئ! بخښنه ویشلے کیږي، د چا چا چې بخښنه پکار ده، د الله پاک در ته دې حاضر شي۔ د بخښنې خیرات دې واخلي۔

| | |
|---|---|
| مغفرت ڈھونڈتی پھرتی ہے گنہ گاروں کو | مہرباں کتنا ہے بندوں پہ خُدا آج کی رات |
| کوئی محروم نہ رہ جائے زمیں پر سائل | آسمانوں سے یہ آتی ہے صدا آج کی رات |

## د بخښنې نه محرومه خلق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ چې په شبِ براءَت کښې څومره په کثرت سره خلق بخښلے کیږي خو افسوس چې د هغه بد نصیبه د بد نصیبئ اندازه څوک لګولے شي کوم چې په دې مبارکه شپه کښې هم د بخښنې نه محرومه پاتې شي۔

د حدیثونو مبارکو مطابق 7 قِسمه خلق دي کوم چې په دې شپه کښې هم د بخښنې نه محرومه پاتې کیږي: (1): مُشرِک [2] (2): د شرابو عادت لرونکے (3): د مور او پلار نافرمانه (4): د زِنا عادت لرونکے (5): خپلولي پرېښودونکے (6): تصویر جوړونکے

1 …ابن ماجه، صفحه:225، حدیث:1388۔

2 …شعب الایمان، کتاب الصیام، فصل ماجاء فی لیلة نصف من شعبان، جلد:3، صفحه:385، حدیث:3838۔

(7): او چغل خور- [(1)]

د بعضو روايتونو مطابق ❁ کاهِن (يعني نجومي) ❁ جادوګر ❁ د تکبر نه پينسې يا تهبند د ګيټو نه لاندې زوړندونکے ❁ د مسلمان سره بغير د شرعي اجازت نه بغض او کينه ساتونکے (يعني په زړهٔ کښې پټه دښمني) لرونکے هم په دې شپه د بخښنې د سعادت نه محرومه پاتې کيږي- [(2)]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ټول 11 قِسمه خلق دي کوم چې په شبِ براءَت کښې هم د بخښنې نه محرومه پاتې کيږي- اندازه ولګوئ چې دوئي په شبِ براءَت کښې هم نهٔ بخښلے کيږي نو بيا به دوئي کله بخښلے کيږي--؟ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه خپله جائزه واخلو، په خپل ګريوان کښې وګورو چې په دې يولسو ګناهونو کښې که يوه ګناه هم په مونږ کښې موجوده وي نو د شبِ براءَت د راتلو نه مخکښې مخکښې د هغې نه توبه کړو او د دې ګناهونو نه ځان پاک کړو چې دغه شان د بخښنې حقداران جوړ شو-

## (1): د شِرک نه ځان ساتئ!

وړومبۍ ګناه کومه چې انسان د بخښنې نه محرومه ساتي، هغه ده: شِرک- دا قاعده هميشه د پاره په زړهٔ کښې کښينوئ چې که هر څهٔ کيږي، د کافِر او مشرک د پاره د قيامت په ورځ بخښنه نشته او بس نشته، بس دا اخري خبره ده- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَكَ بِهٖ وَ یَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ یَّشَآءُ ۚ (پاره:5، سورة النسآء:48) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه الله دا خبره نهٔ بخښي چې د هغهٔ سره شِرک اوکړے شي او د دې نه لاندې چې څهٔ هم دي چا له چې وغواړي معاف به يې کړي- |

معلومه شوه چې د مشرک د پاره هيڅکله هم بخښنه نشته-

---

[1]... فضائلُ الْاَوقات، صفحه:33، حديث:36۔

[2]... آقاکا مهينا، صفحه:11۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمت د شِرک نه محفوظ

اوس د اُمید یوه خبره عرض کوم: اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا اُمت د توحید اُمت دے، لکه څنګه چې پۀ مخکښینو اُمتونو کښې وشول چې د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام د دُنیا نه د پردې فرمائیلو نه پس هغوئي پۀ شِرک کښې اخته شول، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! دا اُمت به پۀ شِرک کښې نۀ اخته کیږي، که یو کَس نیم د اعمالو پۀ وجه اِیمان پریږدي او مشرک شي نو دا بیله خبره ده، چې ټول اُمت یا د اُمت زیاتره خلق شرک شروع کړي، داسې به چرې نۀ کیږي۔

بُخاري او مسلم کوم چې د حدیثِ پاک د ټولو نه معتبر کتابونه دي، پۀ دې دواړو کښې روایتونه موجود دي، محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ قَسم خوړلو سره فرمائي: وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي پۀ خُدائے مې دې قَسم وي بے شکه زۀ ستاسو پۀ باره کښې دا ویره نۀ لرم چې تاسو به زما نه پس پۀ شِرک کښې اخته شئ۔ (1)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا د رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توحید فیضان دے کوم چې به د اُمت د قیامته پورې نصیب کیږي، د دې پۀ برکت به دا اُمت چرې هم پۀ شِرک کښې نۀ اخته کیږي۔

## د شِرکِ خَفي نه ځان ساتئ!

آؤ! د شِرک یو قِسم دے، پۀ کوم کښې چې دا اُمت اخته کیدے شي۔ دا د یاد ساتلو خبره ده، د شِرک دوه قِسمونه دي: (1): یو دے شِرکِ جَلِي (یعنې د الله پاک نه علاوه بل څوک دعبادت لائق ګڼل )، پۀ دې شِرک سره اِنسان د اِسلام نه ووځي (2): دویم دے: شِرکِ خَفِي (دې ته ریا کاري وئیلے شي)۔ پۀ دې سره اِنسان د اِسلام نه نۀ ووځي، البته! دا کبیره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے۔

---

1 ... مسلم، کتاب الفضائل، باب اثبات حوض...الخ، صفحه:903، حدیث:2296۔

صحابئ رسول حضرت شَدَّاد بن اَوس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ ما د اُمت د غمخوار، مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې د پريشانۍ نخښې وليدلې نو عرض مې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور پلار دې ستاسو نه قربان شي! دا د پريشانۍ نخښې د څۀ دي؟ د اُمت سره محبت کوونکي آقا، د اُمت په فِکر کښې غمژن اوسيدونکي آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يوه معامله ده د کومې چې د خپل اُمت په باره کښې زما سره ويره ده- حضرت شَدَّاد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه څۀ معامله ده؟ اوئې فرمائيل: شِرک او پټ خواهش- ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آيا ستاسو اُمت به په شِرک کښې اخته کيږي؟ په دې باندې يې وفرمائيل: اے شَدَّاده! زما اُمت به د نمر، سپوږمۍ او د کاڼو عبادت نۀ کوي خو زما اُمت به په خپلو اعمالو کښې رِيا کوي- ما عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آيا رِيا شِرک دے؟ اوئې فرمائيل: آؤ (رِيا شرک دے)- ما عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پټ خواهش څۀ شے دے؟ اوئې فرمائيل: دا چې زما څوک اُمتي روژه اونيسي خو د څۀ دُنيائي خواهش په وجه روژه ماته کړي- (1)

په يو حديثِ پاک کښې دي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما ستاسو په باره کښې د ټولو نه زيات د شِرکِ اَصغَر ويره ده- عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! شِرکِ اَصغَر څۀ شے دے؟ اوئې فرمائيل: رِياکاري- بيا يې وفرمائيل: د قيامت په ورځ باندې به چې کله خلقو ته د هغوئي د اعمالو بدله ورکړے کيږي نو ريا کوونکو ته به وئيلے شي: د هغوئي خوا له لاړ شئ چا ته چې به مو په دُنيا کښې اعمال ښودل- (2)

---

1 …مستدرک، کتاب:الرقاق، جلد:5، صفحه:470، حديث:8010۔

2 …مسند احمد، جلد:9، صفحه:591، حديث:24273۔

## رِيا څۀ ته وئيلے شي؟

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** معلومه شوه چې دې اُمت ته لګيدونکے مرض شِرکِ جَلي نۀ بلکې شِرکِ خفي (يعنې رياکاري) ده - اګر که پۀ شبِ براءَت کښې چې کوم اِنسان د بخښنې نه محرومه پاتې کيږي، هغه هُغه دے کوم چې پۀ شِرکِ جَلي کښې اخته وي، البته مونږ له د شِرکِ خفي (يعنې د رياکارئ) نه هم بچ کيدل پکار دي- ريا څۀ ته وئيلے شي؟ پۀ توجه سره پرې ځان پوهه کړئ! هر هُغه کار (کوم چې پۀ شرعي توګه صحيح وي او چې د الله پاک د رضا د پاره اوکړے شي نو هغې ته عبادت وئيلے شي- که يو بنده هم دغه نيک کار د الله پاک د رضا نه علاوه پۀ بله څۀ اِراده اوکړي نو دا رياکاريده- (1) مثلاً نـمونځ کول عبادت دے، که څوک نـمونځ کوي خو د الله پاک د رضا د پاره يـې نۀ کوي، خلقو ته د ښودلو د پاره يـې کوي نو داسې کَس ته رِيا کار وئيلے شي-

الله پاک دې مونږ د ريا د افت نه بچ کيدل نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2): د شرابو عادت

دويم عمل کوم چې پۀ شبِ براءَت کښې د بخښنې نه د محرومه کيدو سبب دے، هغه دے: د شرابو عادت- دا هم کبيره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے-

حضرت سَیِّدُنا عبد الله بن عمرو بن عاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما فرمائي چې ما د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د شرابو پۀ باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوئي اِرشاد وفرمائيلو: **دا د ټولو نه لويه ګناه او د ټولو ګناهونو جرړه ده**، شراب څښونکے نـمونځ پريږدي او (**بعضې** وخت) د خپلې مور، [د مور د طرفه د] ترور او [د پلار د طرفه د] ترور سره د بدکارئ هم مرتکب

---

[1]... رياکاری، صفحه:7۔

کیږي - [1]خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! شرابو ته اُمُّ الْخَبَائِث یعنې د ګناهونو مور وئیلے شوې ده، افسوس چې دا ګناه هم په معاشره کښې عامه کیږي، که څۀ دستوره وي، پارټیانې وي، اخترونه تهوارونه وي، د دوستانو سره ناسته وي نو اوس په ورو ورو شراب او نور نشه ایز څیزونه فیشن جوړیږي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! عام طور زمونږ په معاشره کښې اوس هم شراب بد ګڼلے کیږي، البته! پټ پټ یا ښکاره د دې رواج شروع کیدل ډیر خطرناک دے- شراب په طِبي لحاظ سره هم ډیر ضرري څیز دے، په روحاني توګه هم او په معاشره کښې هم د ډیرو بدو د خوریدو سبب جوړیږي- ځکه د شرابو او د دې په شان د نورو نشه ایزو څیزونو نه همیشه لرې اوسیدل پکار دي-

## (3): د مور او پلار نافرماني

شبِ براءَت کومه چې د بخښنې شپه ده، په دې شپه لکه څنګه چې شرابي نۀ بخښلے کیږي، د مور او پلار نافرمانه هم نۀ بخښلے کیږي، دا دواړه څومره لوئي جرمونه دي، په دې باره کښې یوه عبرتناکه واقعه واورئ!

## د مور پلار په رضا کښې د الله پاک رضا ده

روایت دے: چې په بني اسرائیلو کښې یو ګس وو، الله پاک هغۀ له ډیر خوږ او ښکلے اواز ورکړے وو، نور نعمت په هغۀ باندې دا وشو چې هغه به په خپل خوږ اواز کښې د تورات شریف تلاوت کولو- په کتاب کښې لیکلے شوي دي: چې کله به دې بنده د تورات شریف تلاوت کولو نو خلق به د اوریدو د پاره د خپلو کورونو نه راوتل او راتلل به-

په هغۀ کښې یو عیب وو، هغۀ به شراب څښل- د هغۀ مور به هغه منع کولو چې زویه!

---

[1]…مجمع الزوائد، کتاب الاشربة، باب ما جاء في الخمر…الخ، جلد:5، صفحه:73، هديث:8174۔

الله پاک تا ته داسې نعمت درعطا کړے دے، ښۀ کارونه کوه او شراب مۀ څښه- دۀ به د خپلې مور خبره نۀ منله-

یو ځل داسې وشول چې دۀ د تورات شریف تِلاوت کولو، خلق د دۀ نه ګېر چاپېره راتاؤ شول، ښه محفل جوړ شو- دۀ د تورات شریف تلاوت کولو- چې کله د دې اجتماع نه فارغ شو، کور ته راغلو او شراب څښل یې شروع کړل نو مور یې بیا منع کړو، اوئې وئیل: ځویه! پاڅه اودس اوکړه---!! بیا خو دا د شرابو پۀ نشه کښې وو، دۀ **معاذ الله!** مور له څپېړه ورکړله- مور یې راپریوتله، د هغې سترګه راووتله، غابښ یې هم مات شو-

مور یې پۀ تکلیف کښې ووئیل: الله دې ستا نه راضي نۀ شي- بیا هغۀ ته د خپلې غلطۍ احساس وشو، نو د غرونو طرف ته ووتو، تر څلوېښتو کالو پورې یې مجاهدات کول، ښه ډېر عبادتونه یې اوکړل، لوږې یې تیرې کړلې، تر دې پورې چې پۀ هغۀ کښې هډوکې راښکاره شول- د 40 کالو د عبادت نه پس هغۀ د اسمان طرف ته نظر اوکړو، عرض یې اوکړو: اے کریم مالِکه! آیا زما ګناهونه معاف شو، آیا تۀ زما نه راضي شوې؟ که راضي شوے یې نو ما ته خبر عطا کړې- غیبي اواز راغلو: رِضَائِیْ مِنْ رِضَا اُمِّكَ یعنې زما رضا پۀ دې کښې ده چې تۀ خپله مور راضي کړې-

بیا هغه پوهه شو چې که زۀ پۀ زرګونو کاله عبادت هم اوکړم خو که مور مې راضي نۀ شوه نو الله پاک هم نۀ راضي کیږي،لهذا کور ته واپس راغلو، د لرې نه یې اواز اوکړو: یَا مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ اے زما د جنّت کُنجۍ (زما مورې)---!! مور یې پوښته اوکړه: دا څوک دے؟ ووئیلے شو: ستا ځوی دے- مور یې لا اوس هم پۀ تکلیف کښې وه، اوئې وئیل: زۀ ستا نه نۀ راضي کیږم- بیا خو ځوی ډېر زیات خفه شو، د هغۀ هُغه لاس پۀ کوم باندې چې یې مور له څپېړه ورکړې وه، هغه د ډېر خفګان پۀ وجه هُم هُغه لاس کټ کړو، بیا یې لرګې راجمع کړل، هغې ته یې وور ورته کړو، وور ته نزدې شو او اوئې وئیل: اے نافرمانه!

د اخرت د وور نه مخکښې د دُنيا د وور مزه وَڅَکه، نزدې وه چې هغهٔ وور ته دانګلي وے۔ د مور زړهٔ يـې راډک شو، هغې اواز اوکړو: اے زما د سترګو يخ واليه--!! الله پاک دې ستا نه راضي شي--!! ودرېږه!

اَللهُ اَکْبَر! د مور بس دومره وئيل وو چې هُغه کار کوم چې د څلويښتو کالو پهٔ عبادت نهٔ وو شوے، د مور پهٔ يوه جُمله باندې وشو، الله پاک يوه فرښته راوليږله، کومې چې د هُغه ګس لاس وروستو او مور ته يـې سترګه واپس ورعطا کړه۔ [1]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې واقعې پهٔ رڼا کښې دوو خبرو ته پام اوکړئ! (1): دې ته هم وګورئ چې شراب څومره سپيرهٔ څيز دے، هغه ګس نيک وو، د تورات شريف تلاوت به يـې کولو خو يو عيب پکښې وو، چې شراب به يې څښل، دې يو عيب هغه رسوا کړو (2): ورسره د دې واقعې نه د مور اهميت هم معلوم شو چې د څو پورې مور راضي نهٔ وي، د الله پاک رضا هم نهٔ نصيب کيږي۔ ځکه مونږ له پکار دي چې د خپل مور پلار ښهٔ ډير خدمت کوو، مور او پلار که پهٔ نيمه شُله غږ اوکړي نو فوراً حاضر شو، پهٔ منډه منډه، پهٔ ذوق سره، د مور او پلار د محبت پهٔ شوق کښې د هغوئي کارونه کوو، د هغوئي خدمتونه کوو۔

## د الله پاک د راضي کولو ډيره نزدې ذريعه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مور او پلار سره نيکي او ښيګړه ډير خوښ عمل دے۔ د چا مور او پلار چې ژوندي دي، يقين اوکړئ چې د هغوئي خو ډيرې مزې دي، يو ګس وو، د هغهٔ نه د چا قتل وشو۔ قتل ډيره لويه ګناه ده، پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائيلے شوي دي: چا چې يو کس قتل کړو، هغه چې ګويا ټول انسانيت قتل کړو، دومره سخته ګناه ده۔ د دې ګس نه چې کله دا ګناه وشوه نو پښيمانه شو، بيا يـې سوچ اوکړو چې د توبې لار به څهٔ وي؟

[1] ... عجائب بنی اسرائیل، صفحه:66۔

نو د مسئلې د پوښتنې د پاره د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما په خِدمت کښې حاضر شو، ټوله واقعه يې عرض کړه او اوئې وئيل: عالي جاه! آيا زما د پاره به د توبې څۀ لاره وي؟ هغوئي وفرمائيل: آيا ستا مور ژوندۍ ده؟ اوئې وئيل:نه، هغه خو وفات شوې ده- اوئې فرمائيل: ښه راشه! توبه وکړه، څومره چې درنه کيدے شي د الله پاک د راضي کولو کوشش اوکړه!

په دې اوريدو هغه ګس لاړو، خلقو ترينه پوښتنه اوکړه: عالي جاه! د دې سوال جواب خو هم دا وو چې هغه توبه وکړي، بيا تاسو د مور په باره کښې پوښتنه ولې اوکړه؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې زما د معلوماتو مطابق د الله پاک د راضي کولو د ټولو نه نزدې ذريعه د مور سره ښيګړه کول دي (لهذا که د هغۀ مور ژوندۍ وے نو ما به ورته وئيل:چې د مور خِدمت اوکړه! الله پاک به دې ټول ګناهونه اوبخښي)- (1)

## د مور او پلار حقونه څومره دي؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! شبِ براءَت راتلونکې ده، که د مور او پلار نافرماني شوې وي، خفه وي، يا نافرماني په ظاهره شوې هم نۀ وي بيا هم د مور او پلار نه معافي ضرور وغواړئ! هغوئي راضي کړئ! که مور او پلار د دُنيا نه تلي وي نو د هغوئي د پاره نفلونه اوکړئ! صدقه خيرات اوکړئ! د هغوئي په قبر باندې د حاضرۍ عادت جوړ کړئ! د هغوئي د پاره سُورۀ يسين شريف ولولئ! بس په څۀ نا څۀ طريقه د هغوئي زړۀ خوشحاله کړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! په شبِ براءَت کښې به د بخښنې ميلاؤيدو حقدار جوړ شئ-

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بخښنې نه د محرومه کيدو نور اسباب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په شبِ براءَت کښې د بخښنې نه د محرومه کيدو نور

[1]... الادب المفرد، باب بر الام، صفحه:14، حديث:4-

اسباب هم دي، مثلاً ❁ په دې شپه باندې بدکاره هم نۀ بخښلے کيږي، خُدائے دې نۀ کړي که څوک په دې ګناه کښې اخته وي نو هغۀ له توبه کول پکار دي ❁ دغه شان کاهِن (يعنې نجومي) هم نۀ بخښلے کيږي، د دې ګناه نه هُم توبه کول پکار دي ❁ جادو ګر هم په دې شپه باندې نۀ بخښلے کيږي ❁ خپلولي پريښودونکے، د خپلوانو سره جنګ جګړې کوونکے هم نۀ بخښلے کيږي، ځکه د چا چې د ترۀ، ماما، د مور د طرفه د ترور، د پلار د طرفه د ترور سره څۀ خفګان وي، که د هغوئي څۀ قصور وي نو بيا دې هم د هغوئي نه معافي وغواړي او روغه دې اوکړي! ځکه چې د حديثِ پاک مطابق په روغه کښې وړومبے والے کوونکے به جَنَّت ته داخليږي- لهذا پخپله ورمخکښې شۍ او روغه اوکړئ! ❁ دغه شان د چا مسلمان ورور سره بغض ساتل، په زړۀ کښې پټه دښمني ساتل هم د بخښنې نه د محرومه کيدو سبب دے- د دې ګناه نه هم فوراً توبه کول پکار دي-

## په خلقو کښې افضل څوک---؟

حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُما فرمائي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک دربار کښې عرض اوکړے شو: اَیُّ النَّاسِ اَفۡضَلُ؟ يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په خلقو کښې افضل څوک دے؟ اوئې فرمائيل: كُلُّ مَخْمُوْمِ الْقَلْبِ، صُدُوقُ اللِّسَانِ هر هٰغه اِنسان کوم چې مَخمُومُ القَلب دے او د رښتوني ژبې والا دے- صحابۀ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! صُدُوقُ اللِّسان (يعنې رښتوني ژبې والا) چا ته وئيلے شي، دا خو مونږ ته معلومه ده، مَخمُومُ القَلب څوک دے؟ اوئې فرمائيل: هٰغه پرهيزګاره ګس د چا چې هيڅ ګناه نۀ وي، د هغۀ په زړۀ کښې نۀ سرکشي وي، نۀ کينه وي، او نۀ حَسَد وي- [(1)]

معلومه شوه چې د چا ژبه چې رښتوني وي، دروغ نۀ وائي او د چا په زړۀ کښې چې

[1]...ابنِ ماجه، کتابُ الزُّہد، جلد:4، صفحه:475، حديث:4216-

سرکشي نهٔ وي، نهٔ پهٔ کښې کینه وي، نهٔ بغض وي، نهٔ حَسَد وي، هٰغه اِنسان د ډیر فضیلت والا دے- شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې اِستغاثه پیش کوي:

جهوٹ سے بغض و حسد سے ہم بچیں | کیجئے رحمت اے نانائے حُسین

## د شبِ بَراءَت یو څو نفلونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! راځئ چې پهٔ اخره کښې پهٔ شَبِ براءَت کښې د ادا کیدونکو یو څو نفلونو پهٔ باره کښې واورو-

## د ماښام نه پس 6 نفلونه

د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهِ عَلَيْهِم پهٔ معمولاتو کښې دي چې د ماښام د نمونځ د فرضو او سُنَّتو نه پس 6 رکعته نفلونه 2، 2 رکعته ادا کړے شي- ❁ د وړومبو 2 رکعتونو نه مخکښې دا نیت اوکړئ چې - **یا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پهٔ برکت باندې ما ته د خیر سره زیات عمر راعطا کړې** ❁ د دویمو 2 رکعتونو نه مخکښې دا نیت اوکړئ: **یا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پهٔ برکت باندې د بلاګانو نه زما حفاظت اوکړې** ❁ د دریمو 2 رکعتونو د پاره دا نیت اوکړئ: **یا الله پاکه! د دې دوو رکعتونو پهٔ برکت باندې ما د ځان نه علاوه د چا هم مهٔ محتاجه کوې-**

پهٔ دې شپږو رکعتونو کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس چې کوم سورتونه غواړئ هغه ولولئ، که غواړئ نو پهٔ هر رکعت کښې د سُوْرَةُ الفاتِحَه نه پس 3 کرته سُورَةُ الاِخلاص ولولئ- د هرو دوو رکعتونو نه پس 21 کرته قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ (ټول سورت) یا یو ځل سُوْرَهٔ یٰسین شریف ولولئ بلکې که کولے شئ نو دواړه ولولئ- دا هم کیدے شي چې یو اِسلامي ورور پهٔ تیز اواز یٰسین شریف لولي او نور یې پهٔ خاموشۍ سره ښه پهٔ توجه باندې اوري- پهٔ دې کښې دې د دې خبرې خیال وساتلے شي چې اوریدونکي دې پهٔ دغه وخت کښې پهٔ ژبه یٰسین شریف بلکې هیڅ هم نهٔ لولي او دا مسئله هم یاده ساتئ چې کله قرآنِ کریم پهٔ تیز اواز

وئیلے کیږي نو چې کوم خلق د اوریدو د پاره حاضر وي نو په هغوئي باندې فرضِ عين دي چې په خاموشئ سره ښه په توجه يې واوري- اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! هُم د شپې په شروعِ كيدو كښې به د ثوابونو ډیرے جوړ شي- هر ځل د يٰسين شريف نه پس **د نصف شعبان** يعنې د شبِ براءَت دُعا هم ولولئ-

د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د شَعبَان شريف په فضيلتونو باندې مشتمله رساله ده: **آقا (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) کا مهینه-** په دې رساله كښې **د نصف شعبان** (يعنې شبِ براءَت) دُعا ليكلے شوې ده، هلته يې وګورئ او اوئې لولئ-

علامه ضياءُ الدِّين دِيرِيني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک نيكانو بندګانو به په شبِ براءَت كښې 100 ركعته نـمونځ داسې كولو چې په هر ركعت كښې به يــې د سورۀ فاتحه نه پس 100 كرته سُورۀ اِخلاص (قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد) لوستلو- اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته 30 صحابۀ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم حديث بيان كړو چې چا دا نـمونځ اوكړو، الله پاک د **هغۀ طرف ته 70 كرته د كرم نظر** فرمائي او د كرم د هر نظر په بدله د **هغۀ 70 حاجتونه پوره** كوي، په دې كښې يو حاجت دا دے چې دغه اِنسان بخښلے كيږي-[(1)]

| | |
|---|---|
| ياخُدا! ميری مغفرت فرما | باغِ فِردوس مرحمت فرما |
| تُو گُناہوں کو کر معاف اللہ! | ميری مقبول معذرت فرما |

## د 14 او 15 شعبان د روژو ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د **14 شعبان شريف** په ورځ كه كيدے شي نو روژه ونيسئ ولې چې دا ورځ د اعمال نامو دبدليدو ورځ ده لهذا چې اعمال نامه د الله پاک په بارګاه كښې پيش كيږي نو پكار ده چې سړے روژه دار وي-خوږ آقا،مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هم دا خبره خوښوله- روايت كښې دي چې : د الله پاک آخري نبي

[1]... طهارة القلوب، صفحه:136-

مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چي: (د الله پاک پهٔ بارګاه کښې چي کله اعمال پيش کيږي نو) زما دا خوښه ده چي زما اعمال پهٔ داسي حالت کښې اوچت کړے شي چي زهٔ روژه دار يم-[1]

کوشش اوکړئ چي شبِ برات د الله تعالي په عبادت کښې تير کړئ او د 15 شعبان روژه ونيسئ-زمونږه خوږآقا ،مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي :چي کله د شعبان مينځنئ(پنځلسمه) شپه راشي نو په هغه شپه قيام(يعني عبادت) کوئ او د ورځي روژه ونيسئ[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي، کاش چي پهٔ شبِ براءَت کښې پهٔ براءَت (يعني نجات) حاصلوونکو کښې مونږ ګنهګاران هم شامل شو-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د شعبې مدرسة الـمدينه بالِغان تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دين پهٔ نور تقسيمولو،پهٔ مختلفو ذريعو سره د عِلمِ دِين پهٔ فيضان عام کولو کښې مصروف دے-هم پهٔ دې ذريعو کښې يوه ذريعه **مدرسة الـمدينه بالِغان** هم ده-

**اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د مدرسة الـمدينه بالِغان پهٔ ذريعه د قرآنِ کريم د زده کولو بهترينې موقعې ورکوي- دا شعبه د روزانه پهٔ بنياد ✿ جوماتونو ✿ مارکيټونو ✿ سکولونو ✿ کالجونو او نورو **پهٔ زرګونو ځايونو** کښې د زيات عمر والا **لکونو اِسلامي وروڼو او اِسلامي خوئيندو** ته د قرآنِ کريم تعليم ورکوي- د دې شعبې پهٔ ذريعه

[1]... نسائی، کتاب الصیام، باب صوم النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم...الخ، صفحه:387، حدیث:2354۔

[2]... ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة و السنة فیها، باب ماجاء فی لیلة ...الخ، صفحه:225، حدیث:1388۔

❀ د صحيح تجويد او قراءَت سره د قرآنِ کريم لوستل زده کولے شي ❀ فرض علوم هم ښودلے شي ❀ سُنَّت او آداب هم ښودلے کيږي ❀ د ترجمې او د تفسير اوريدو موقع هم ميلاؤيږي ❀ مختلفې دعاګانې ښودلے کيږي ❀ د درس او د بيان طريقه ❀ او د مسئلو د ښودلو سره سره د الله پاک د ويرې او د عشقِ رسول د نمونې د جوړولو کوشش هم کولے شي-

تاسو هم په مدرسة الــمدينه بالغان کښې داخله واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي- راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره درته يو مدني سپرلے بيانوم -

## د نــمونځونو پابند شو

د يو اِسلامي ورور بيان دے چې دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې به زۀ د لوفرانو دوستانو سره ګرځيدم او فضول کارونه کول زما معمول وو- يو ځل د يو اِسلامي ورور سره زما ملاقات وشو- د سلام او لاسونو ميلاوهلو نه پس پۀ خبرو کښې هغۀ ما ته پۀ مدرسة الــمدينه (بالغان) کښې د شرکت کولو دعوت راکړو او ورسره يې د دې فائدې هم بيان کړې، ما اِراده اوکړه او پۀ مدرسة الــمدينه کښې مې شرکت شروع کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې پۀ برکت د دِيني ماحول سره د تړون لرلو پۀ وجه زۀ د نــمونځونو پابند شوم، خو لا مې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي سُنَّت عمامې شريف پۀ سر کولو ذِهن نۀ وو جوړ شوے- اخر د يو اِسلامي وور پۀ پوهه کولو مې عمامه هم پۀ سر کړه، د عمامې شريف پۀ سر کولو پۀ تول کور کښې هم زما د ډاډګيرنې والا څوک نۀ وو- يوه شپه مې د سپينو جامو د اغوستونکي عمامې پۀ سر کوونکي بزرګ پۀ خوب کښې زيارت اوکړو، ما ته معلومه نۀ وه چې دا څوک دے، پۀ خوب کښې را ته چا ووئيل چې دا اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دے، هغوئي پۀ خپلو مبارکو لاسونو باندې زما پۀ سر باندې عمامه پۀ سر کيښوده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغې نه پس زما پۀ زړۀ کښې د پير او مُرشد محبت نور هم زيات شو- د دِيني ماحول پۀ برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه! د

دعوتِ اِسلامي د دِيني کارونو پهٔ ذريعه د دِينِ اِسلام پهٔ خِدمت کښې مصروف يم۔

یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خدا دینی ماحول
تُو آ بے نَمازی، ہے دیتا نمازی | خدا کرم سے بنا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نيک اعمال موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو او پهٔ نيک اعمالو کښې د زياتوالي د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: **نيک اعمال** (***Naik Amal***) دا ايپلي کيشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د اِسلامي ورونړو، اِسلامي خوئيندو او طالبِ علمانو د پاره بيلې بيلې رسالې موجودې دي ❁ دا پهٔ 6 مختلفو ژبو ❁ انګلش ❁ اُردو ❁ هندی ❁ بنګالی ❁ ګجراتی او ❁ سندهی کښې استعماليدے شي ❁ پهٔ دې کښې پهٔ مختلفو نيک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څهٔ وخت هم مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پهٔ برکت به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذهن جوړيږي، د زړهٔ صفا والے به نصيب کيږي او کردار به مو صفا سوتره، ښکلے کيږي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين پهٔ خدمت کښې مصروف دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ (***Kanzul Madrasah Board***) پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي

بورډ دے ❁ پهٔ زرګونو جامعات او مدارسُ الـمدینه د هلکانو او جینکو *(Boys & Girls)* ماشومانو د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات *(Specialization)*، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدینه (بوائز اینډ ګرلز) د طالبِ علمانو شمیره پهٔ لکونو کښې ده ❁ د زیات عمر اِسلامي وروڼو او خوئیندو ته د قرآنِ کریم تعلیم ورکولو د پاره پهٔ زرګونو مدارس الـمدینه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي وروڼو او خوئیندو شمیره پهٔ لکونو کښې ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمي (*Faizan Online Academy*) پهٔ ذریعه دِیني تعلیم ورکړے کیږي ❁ د دِیني او شرعي لار ښودنې د پاره دار الافتاء اهلسنت جوړې کړے شوي دي ❁ د الـمدینةُ العلمیه *(Islamic Research Center)* پهٔ ذریعه پهٔ دیني لټریچر باندې تحقیقي کار کیږي، ❁ د دِیني لټریچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکې اداره الـمدینةُ العلمیه جوړه کړے شوي ده ❁ پهٔ ټوله دُنیا کښې د دِیني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظیمي سیټ اپ دے، د ذیلي حلقے نه واخله د د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې یو نظام جوړ دے، ښار پهٔ ښار، کلي پهٔ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول پهٔ تربیت کولو هغوئي د دِیني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته لیږلے کیږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګانې ورکړے کیږي او هغوئي فارِغ البَال (یعني د ګټې وَټې نه پهٔ بے پروا کیدو) د دِین خِدمت کوي ❁ د میډیا پهٔ مختلف پلیټ فارمز باندې هم د دِین د خِدمت سلسله روانه ده ❁ پهٔ پرنټ میډیا (کښې د ډیرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فیضانِ مدینه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنیا پهٔ 7 ژبو کښې د ټولو نه زیاته چاپ کیدونکې ماهنامه ده) ❁ پهٔ سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب *(YouTube)*، فیس بُک *(Facebook)*، انسټا ګرام *(Instagram)* وغیره) باندې په مجموعي توګه ملینز فالورز

(**Millions Followers**) دي او د ويوز شميره په بلينز (**Billions**) کښې ده ❀ د دې نه علاوه د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (**Kids**) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل په ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي۔

تاسو هم د دِين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعني ډونيشن په هرقِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، په ښو او د امدن زياتولو په جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي چې زياتې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يو څو ضروري اِعلانونه واورئ! ❀ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نـمونځ نه پس(تقريباً 8:30 بجې) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې ښخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به خپلولې پريښودل حرام دي رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله ښخپله هم ولولئ! نورو له هم د

دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئې دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر **(Share)** کړي!
✿ اِمام اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عظيم الشان عالِم، فقيه او د اِسلام مفتي وو- الله پاک هغوئې ته ډيرې خوبيانې عطا کړې وې- مکتبة المدينه د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په سيرت باندې مشتملې دوه رسالې چاپ کړې دي: (1): اشکوں کی برسات (2): امام ابو حنیفہ کا حُسنِ سلوک۔

په دې رسالو کښې د امام ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ✿ علمي ✿ فقهي ✿ روحاني خدمتونه ✿ او ښه اخلاق ښکاره کړے شوي- تاسو رساله **اشکوں کی برسات** په **17 روپے** او **امام ابو حنیفه کا حسن سلوک** په **20 روپے** د يوې يوې څانګې نه په بيعه حاصله کړئ، پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم دعوت ورکړئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي- [(1)]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دې

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي**: **(1)**: د قيامت په ورځ باندې به د عمل په تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده په خپل کور والؤ باندې

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

خرچ کړے شوے مال کېنبودے شي- [1] **(2)**: څوک چې د ثواب په نيت باندې په خپل کور والؤ باندې خرچ وکړي نو دا د هغۀ د پاره صدقه ده- [2]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** په خپل کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ✿ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل کور والؤ باندې خرچ کولو ✿ د حديثِ پاک مطابق د هجرت نه پس يو وخت داسې هم راغلےوو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ د پاره د ټول کال غَلّه جمع کوله- [3]

د دې حديثِ پاک لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کومه شرح بيان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا يعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال د پاره غَلّه جمع کول، د بنو نُضَير د قلعې فتح کولو نه پس خبره ده- دا هم ياد ساتئ چې حضور، جانِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکر چې د ټول کاله غَلّه جمع کوله خو د اُمَّت پاکو مئيندو رَضِيَ اللهُ عَنْهُن به پۀ کثرت سره صدقه او خيرات کولو، د ټول کال غَلّه به زر ختميدله او نوبت به لوږو ته رسيدلو- [4]

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع کول دې د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت پۀ حق کښې سُنَّت جوړ شي، کنې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور والا

---

[1] ...معجم الاوسط، جلد:4، صفحه:329، حديث:6135۔
[2] ...مسلم، كتاب:الزكاة، صفحه:502، حديث:1002۔
[3] ...احياء العلوم، كتاب: توحيد، جلد:4، صفحه:343۔
[4] ...مرآة المناجيح، جلد:5، صفحه:949۔

د کمزورې زړهٔ والا نهٔ وو (بلکې هغوئې پهٔ الله پاک باندې کامِل باور لرونکې وې)- [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (2) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې

---

[1] ... احياء العلوم، كتاب: توحيد، جلد: 4، صفحه: 343-

[2] ... وسائل بخشش، صفحه: 669-

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا
2...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷
3...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[3] راځئ

---

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

3 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.(1) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 . . . تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵